# بسم الله الرحمن الرحیم

**خبر او تبصره**

# سېکولر دولتونه، طبیعي افتونه په بحران بدلوي

**خبر:**

د تېرو څو اونیو سختو بارانونو له وجې د هېواد وضعیت خراب شوی، رسنیو په ټول هېواد (مرکزي، ساحلي او شمال‌ختیځو سیمو په ګډون) کې د ورانیو او مرګ‌ژوبلې رپوټ ورکړی؛ د وضعیت د لا خرابېدو د شونتیا خبرداری هم ورکړل شوی. وروستۍ وژونکې پېښه هغه تند سېلابونه وو چې په ختیځ پوکاټ کې یې د کورونو پر ړنګولو سربېره له ۵۰ د زیاتو کسانو ژوند اخیستی او ډېری اوسېدونکي یې د ځمکې د ښویېدو له امله تر خاورو لاندې کړل. په دغو وروستیو کلونو کې دا ډېره خونړۍ طبیعي تراژېدي وه.

**تبصره:**

دغه بارانونو یو ځل بیا په ډاګه کړه، چې سېکولر دولتونه د بحرانونو په مدیریت کې عاجز دي. د لویدیځ پوکاټ مرګژوبله ناوړه پېښنو ته د امادګۍ په وسیله په ډېره ښه توګه راکمېدای شوی. دولت ډېره بې غوري وکړه؛ د داخلي کابینې د مشر، فربېز متیانګي په مشرۍ لوړپوړي دولتي چارواکي هغه کلي ته ونه شوای رسېدلی، چې ډېر خلک په سختۍ او بې رحمۍ پکې له منځه لاړل. که دولت مخکې له مخکې فکر کړی وی، هر څه یې سنجولي وی او خپل مسولیت یې ادا کړی وی، وضعیت به تر دې حده نه و خراب.

د هېواد د چارواکو له خوا د ځمکو غصبول او د اوسېدلو د کورونو لپاره د لږ پاملرنې پلانونو له امله ډېرې غریبې کورنۍ د اوسېدلو وړ مناسب ځایونو ته کمه لاسرسی لري، په همدې ډول په سیلابي سیمو کې یې ژوند له خطر سره مخ وي. په لرې پرتو سیمو کې په ځانګړي ډول چې تر اوسه یې سرکونه د فساد له امله نه دي جوړ شوي، ۳۲ سلنه خلک له سرکونو دوه کیلو متره لرې اوسېږي، دا د دې سبب کېږي چې د سېلونو د راتګ پر وخت دوی ته پر وخت مرسته ونه رسېږي یا بې مرستې پاتې شي.

دغه ورانوونکې پېښې په ډاګه کوي، چې د سرمايه دارۍ نظامونه طبيعي پېښې څنګه پر بشري ناورين بدلوي. دېر ځله د دغو ناوړه پېښو د رامنځته کېدلو له امله د پانګوالۍ اصلي څېره او د حاکميت سيستم په ډاګه کېږي، چې د عامه خلکو ګټو ته پاملرنه نه لري. سېکولر پانګوال سياسيون په هېواد کې په رايو پسې په الوتکو کې ګرځي، خو کله چې عام خلک په سېلابونو کې ډوبېږي، نو دوی په تلويزيونو کې را ښکاره شي! د پانګوالۍ او د هغوی د رهبرانو اصلي تعريف دادی، چې يوازې خپل ژوند ورته مهم دی او د بېوزلو خلکو د ژوند پروا نه لري.

حتا دا هم رښتيا دي چې انسان په طبيعي ډول نشي کولايو چې د دغو ډول پېښو مخنيوی وکړي؛ خو الله سبحانه وتعالی امر کړی دی چې د ځانګړو پروسو او لارو په وسيله د دغو ناوړه پيښو د رامنځته کېدلو وړاندوينه وکړئ، تر څو تلفات يې راټيټ شي. اسلام د يوه بشپړ دين په توګه ښکاره کړې ده، چې عامه چارو ته د پاملرنې مسووليت د افرادو نه، بلکې د دولت دی. لکه څنګه چې زموږ ګران پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي:

## «الإِمَامُ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ»

***ژباړه:*** *امام د خلکو شپون دی او د خپل رعيت مسووليت هم لري.*

اسلامي دولت (خلافت) مسووليت لري، چې د اوسېدونکو د ژوند امنيت په هر وخت کې وساتي. د سيلابونو يا ځمکې ښوييدلو په ناوړه پېښو کې خلافت د بيت المال له خزانې څخه ګټه اخلي، چې له زيانمن شوو عامه خلکو څخه ساتنه وکړي او دا يې يو مسووليت دی، نه نيکي. که چېرې په بيت المال کې پانګه نه وي، نو خليفه به پر شتمنو خلکو په جبري توګه يوه ځانګړې اندازه امکانات وضعه کړي، تر څو دغه حالت جبران کړي. خلافت به په دې توګه د خپلو هېوادوالو له قيمتي ژوند څخه ساتنه کوي؛ بااذن الله وتعالی.

## د حزب التحرير مرکزي مطبوعتي دفتر ته

## په کينيا کې د حزب التحرير د مطبوعاتي دفتر استازی

## ليکوال: شباني مواليمو